



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ريښتونی پاچا

—— لنډه کيسه ——

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرليک:** رېښتونی پاچا ـــــ لنډه کيسه ـــــ

**ليکنه:** عبدالرشيد "صمد نجاب"

**ترتيبوونکی:** ارسلان همت

**پښتی ډيزاين:** ارسلان همت

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د رېښتونې پاچا کیسه:

یوه ورځ یو پاچا له خپل دربار څخه ووت تر څو د خلکو (رعیت) له وضعیت څخه ځان خبر کړي،

د خپلو ساتونکو او درباریانو سره ګوري چې په بازار کې ډیر خلک په خپلو کارونو بوخت دي،

پاچا یو سړي ته یې وویل:

زه در څخه یوه پوښتنه لرم سم ځواب به راکړې؛

سړي وویل: ولې نه پاچا صاحب.

آیا زما پاچاهي ښه ده که بده؟؟؟

سړي د پاچا صفتونه او ستاینې پیل کړې او وې ویل چې ستا پاچاهي ډیره ښه ده...

پاچا لومړی خبرو ته یې غوږ شو؛

خو بیا خپلو ساتونکو ته یې امر وکړ چې دا سړی دروغ وایي؛

سر یې پرې غوڅ (قطع) کړئ!

پاچا لږ وړاندې لاړ او بل سړي ته یې وویل:

یوه پوښتنه در څخه لرم سم ځواب به راکړې؛

سړي وویل: سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا زما پاچاهي ښه ده که بده؟؟؟

دې سړي د پاچا سپکې او سپورې پېل کړې او وې ویل چې ستا پاچاهي ډېره بده ده...

پاچا د دِه سړي خبرو ته هم غوږ شو؛

خو بیا یې خپلو ساتونکو ته امر وکړ چې دا سړی هم رښتیا نه وایي؛

د ده سر هم غوڅ (قطع) کړئ!

پاچا حرکت یې وکړ یو څه نور هم وړاندې لاړ...

غوښتل یې چې د دریم کس څخه پوښتنه وکړي؛

پدې وخت کې یو ماشوم چې د پاچا او د دویم کس د خبرو لیدونکی (شاهد) وو،

پاچا ته یې په خپل نَري (کوچني) غږ سره وویل:

زه ستا په ځواب پوهیږم!

پاچا د کوچني ماشوم پدې خبره ډېر حیران شو.....!

کوچني ماشوم ته یې وویل:

ګرانه! ته چې زما د پوښتنې په ځواب پوهیږې نو ویې وایه!

ماشوم ورته وویل:

ته زمونږ د کړنو (اعمالو) پایله یې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې زمونږ کړنې (عملونه) ښه وي نو ته به هم ښه يې او ستا پاچاهي به هم ښه وي،

که چېرې زمونږ کړنې (عملونه) بد وي نو ته به هم بد يې او ستا پاچاهي به هم بده وي،

د پاچا سترګې له ډېرې حيرانۍ سپينې را ووتلې...

کوچنی هلک يې ښکُل (چَپ) کړ او په غېږ کې يې ونيوُه.

خپلو ساتوونکو ته يې وويل: زه د همدې خواب په لټه کې وم،

همدا زما د پوښتنې رېښتونی او سم ځواب دی.

**د کيسې مانا او مطلب:**

د نړۍ په يوې سيمه يا هيواد کې چې کوم حاکمان او مشران واک ته رسيږي په ډېره کچه د خلکو د کړنو (اعمالو) پایله وي. په افغانستان کې هم پدې وروستېو نږدې څلور نيمو لسيزو (۴۳ کلونو) کې چې کوم حاکمان واک ته رسيدلي دي او هيواد يې اوسني وضعيت ته رسولی، زمونږ د (ملت يا خلکو) د کړنو ، د واکمنو حاکمانو رښتيا نه وېلو او خدمت نه کولو او د ملت او حکومت (دولت) د جلاوالي پايله ده. څوک د کمونسټ، څوک د خلق او پرچم، څوک د راستي او چپي، څوک د ميا او د مُلا، څوک د ډيموکراټ او خراساني او اوس بيا د ميا او د مُلا په نومونو واک ته رسېدلي دي؛ هيله ده له همدا اوس سمدستي او په راتلونکي کې مونږ د ملت په توګه او حاکمان د هيواد مشرانو په توګه خپلې دندې او مسئووليتونه په سمه توګه سرته ورسوي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يادَونه:**

که د ليکوال نور کتابونه او ليکني غواړئ ولولئ، په کتابتون ويب پاڼې کې خپاره (خپرې ) شوي دي، نو لاندې آدرسونو او لينکونو ته لاړ شئ:

**د کوید-۱۹ کرونا ویروس پټ رازونه (کتاب):**

https://ketabton.com/book/14784

**اوسني حکومت د راتګ په اړه ليکنه (کتاب بڼه):**

https://ketabton.com/book/14700

**له سود څخه ځان، کورنۍ، ټولنه او هيواد وژغورئ (کتاب بڼه):**

https://ketabton.com/book/14848

**وروستۍ ورځ له پندَ ډکه کيسه:**

https://ketabton.com/posts/772

**د بوډا سړي کيسه:**

https://ketabton.com/posts/735

**بريالیتوب ته اړتيا:**

https://ketabton.com/posts/678

**آيا امنيت (امن) د ژوند هر څه دي؟**

https://ketabton.com/posts/648

**د نرۍ سوکاله (آرامه) هيوادونه**

https://ketabton.com/posts/636

**آيا افغانستان په اقتصادي ناورين (بحران) کې دی؟**

https://ketabton.com/posts/610

**له تاسو ټولو لوستونکو څخه ډېره زياته مننه بريالي اوسئ!**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**